Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستـان اقتصـادي پـرمختگ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۲۲مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۴مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۶/۲۶



په افغانســتان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- تدارکاتو کمېسیون کې د ۲.۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د ۱۲ پروژو منظوري

۲- د ۳٦ داخلي معیارونو او ۳۰ ازمایښتي طریقو تایید؛ د تولید او بازار د کیفیت د تنظیم لپاره نوی ګام

# تدارکاتو کمېسیون کې د ۲.۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د ۱۲ پروژو منظوري

د تدارکاتو کمېسیون کې د شاوخوا ۲.۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د ۱۲ پروژو منظوري د هېواد د اساسي اقتصادي زیربناوو د پراختیا په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د روانو اقداماتو څرګندونه کوي. دغه پروژې د روغتیا، ترانسپورټ او انرژۍ په برخو کې دي. هغه سکتورونه چې د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره اساسي زیربناوې برابروي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون په نوبتي غونډه کې ۳۰ پروژې وڅېړل شوې، چې له ارزونې وروسته یې ۱۲ پروژې د شاوخوا ۲.۷ میلیارده افغانیو په ارزښت منظورې شوې. د منظور شوو پروژو له



ډلې په بغلان کې د خوست و فرنګ او په پکتیا کې د سیدکرم ولسوالیو کې روغتونونو جوړول، د کابل ښار د یوشمېر داخلي سړکونو جوړول او په بېلابېلو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع شبکو پراختیا شامل دي. په اقتصادي لحاظ، د دغو پروژو اهمیت یوازې د ودانیو او فزیکي تاسیساتو په جوړولو پورې محدود نه دی. د سړکونو پراختیا د توکو د لېږد رالېږد لګښت او وخت راکمولو، د ښارونو او بازارونو ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا او د سوداګریزو فعالیتونو د پراخېدو لپاره زمینه برابروي. په ورته ډول، د برېښنا د شبکو پراختیا د تولیدي او خدماتي فعالیتونو لپاره د انرژۍ لاسرسی زیاتوي او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لامل کېږي. په دې لړ کې د ۱۰ نورو پروژو اړوند تعدیلات هم منظور شوي، چې د مالیې وزارت د دارالامان کمپلکس، د کونړ د ۲۰۰ بستریز روغتون، په کابل کې د الشفاء روغتون او د یوشمېر نورو پروژو د پاتې چارو بشپړول یې شامل دي. د روانو پروژو بشپړول له اقتصادي پلوه ځکه مهم دي چې د مخکې ترسره شوي پانګونې د بشپړې استفادې زمینه برابروي او د نیمګړو عامه تاسیساتو د فعالېدو لپاره شرایط رامنځته کوي. یادې ټولې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي او د روغتیا، ترانسپورټ او انرژۍ په برخو کې د پانګونې د دوام له لارې د اقتصادي او ټولنیزو زیربناوو د پیاوړتیا په موخه عملي کېږي.

# د ۳٦ داخلي معیارونو او ۳۰ ازمايښتي طريقو تاييد؛ د توليد او بازار د کيفيت د تنظيم لپاره نوی ګام

د اقتصادي کمېسيون له لوري د ۳۶ داخلي معيارونو او د ازمايښت د ۳۰ طريقو تاييد د هېواد د توليدي او سوداګريزو فعاليتونو د معياري کولو، د محصولاتو د کيفيت د ارزونې او په بازار کې د معياري توکو د عرضه کولو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم اقدام دی. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې د معيار او کيفيت اداري له لوري د داخلي معيارونو ۶۶ مسودې وړاندې شوې، چې له بحث او ارزونې وروسته ۳۶ معيارونه او د ازمايښت ۳۰ طريقې تاييد شوې. دغه معيارونه د کرنيزو محصولاتو، خوراکي توکو، درملو، نساجی، کيميا او پلاستيک، مخابراتو او اليکتريک، کان‌کيندنې، ساختماني موادو، چاپېريال ساتنې او يوشمېر نورو برخو پورې تړاو لري. د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا له نظره، د دغو سکتورونو لپاره د مشخصو معيارونو شتون توليدوونکو او سوداګرو ته د کيفيت د رعايت روښانه چوکاټ برابروي او د محصولاتو د ارزونې لپاره بنسټ پياوړی کوي. د معيارونو اقتصادي اهميت د بازار د باور، د توليدي رقابت او د محصولاتو له بازارموندنې سره تړاو لري. په ځانګړې ډول د کرنيزو محصولاتو، خوراکي توکو، درملو او ساختماني موادو په څېر برخو کې معياري توليد کولی شي د کورني بازار د کيفيت د تنظيم لپاره منظم چوکاټ رامنځته کړي. په غونډه کې په پکتيا، پکتيکا، خوست، کندهار او ننګرهار ولايتونو کې د ډبرو سکرو د تخليې، بارګيرۍ، پروسس او بسته‌بندۍ مرکزونو د مالکيت موضوع هم وڅېړل شوه. له ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې دغه مرکزونه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند دي او ياد وزارت به يې چارې پرمخ وړي، په داسې حال کې چې ماليې وزارت به په ګمرکونو کې د خپلو اړوندو چارو مسووليت ترسره کوي. د دغو مرکزونو د مسووليت مشخصول له اقتصادي اړخه د چارو د تنظيم او د ادارو ترمنځ د دندو د روښانتيا لپاره اهميت لري، ځکه په يوه اقتصادي فعاليت کې د مسووليتونو روښانه وېش د اجراآتو د تداخل مخه نيسي او د اړوندو چارو د تعقيب زمينه اسانه کوي. په ټوله کې، د نويو معيارونو تاييد او د ازمايښت د طريقو مشخصول د اقتصادي فعاليتونو د کيفيت د لوړولو، د توليدي سکتور د معياري کېدو او د بازار د تنظيم په لور د بنسټيزو اقداماتو د ډلې ګڼل کېږي.

